کال و یوسل نونس او زر شمار ... خلاص سو لظلم د ګرګین قندهار
ذلظلم پای دی سي وران عالم ... زری لظلم څوک ودان عالم
ذظلم او رچه بل سي سوځي جهان ... یکښې کباب سي ستمګر ظالمان

ظالم جفا کوی پر ځان نه په بل
وینځ هر څوک سزا د خپل بد عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د عالم کامل ملا محمد عادل بریځ رح دا ملا صاحب په قوم بریځ او عالم او متورع سړی دی خلقو ته د ښو لار ښوونده کا په ښو اوک کښ اوسی او طالبانو ته درس کا د ده پلار ملا محمد فاضل هم ښه ملا و په روضه ربانی کتاب ی کښلی و ملا محمد عادل هم یو کتاب نظم کړی دی په محاسن الصلوة ی نوم دی او د لمانځه مسایل او ثوابونه او د تارکینو عذابونه دی پکښ کښلی دی دا یو څو بیتونه له هغه کتاب د لته را نقل کوم چه یادګار وی

بیت

هغه خلق عاصیان دی | چه په فرض کښی کاهلان دی

چه فرض نه کا ندی لقضه | دوی بی شکه کافران دی

په وای کړم سی زده ی نوی | که طعام خوری حیوانان دی

علم فرض په هر سړی دی | چه فرض نه کا فاسقان دی

چه په قصد یو لمونځ قضا کا | په دوزخ کی غاسقان دی

خدایه ته ره امان غواړم | له هغو چه فاجران دی

له هغو سره چی ګډه کا

چه خاصه د ایماندار اندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د شاعر شاطر محمد طاهر جریاڼی      د محمد علی جریاڼی زوی دی
پیښور د کانداری کا د ښکارپور سوداګری لره او هلته ئی خوش طبع خوان دی
طبع ئی هزل ته مایل وه او کله کله ښه اشعار هم وایی پکلو کلو هم تنګ کښی
د پلار سره او سیدلی او هلته ئی له اکثرو علماو فنون لوستی وکا او علوم دینی
ئی زده کړل د کاتب الحروف سره آشنایی لری د کال ... قامت لوز عالمانو مجلس کړه دا
وی د یارانو سره خوش طبعی او ظرافت کا هسی وایی کاتب الحروف محمد هوتک چې
یوه ورځ ئی یو یار د کاندهار ئی په نوم وه د محمد عمر خان پښتوم لون کاندری
پښتنو د طبع لطیف لشاعرانو سره آشنایی کا او پخپله هم اشعار انشا کا محمد عمر خان
د محمد طاهر سره ظرافت کا او لطیفه نکات یو بل ته سره وایی محمد عمر وویل لس کال
د محمد طاهر سره مجلس او وینا یم خو هیڅ اثر د مجلس نلیدل کیږی او ندا الصحبة
مؤثرة مصداق ښکاره کیږی په سبیل د هزل ئی دا قطعه په مجلس کښی و وئیله

قطعه

وایی دا په صحبت کاندی | یوله بلد دیر اثر
پکلو دی مصاحب سره کم | تا صحبت نکړه ضرر

محمد طاهر په طبع ظرافت پسند لری او هسی نکات بند ادا کاهی قطعه ئی په جواب انشا کا

قطعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطعه جوابیه

صحبت دیدار کا لګوره　　منکر نشي دا شر

قدر محض بغدرشي وي　　او س انسان سولي بشر

محمد عمرخان پلرانت له محمد طاهر پو ښتنه وکا چه ستا نوم طاهر دی څو مطهر ندی

محمد طاهر هسی بیت ووایه　　بیت

زه وڅان وته طاهر یم　　څو وتا ته مطهر

ذکر د عاشق پاکباز دانای راز ملا محمد ایاز نیازی　د دنیا تارک دی او پیر هد او ورع کښی ریاضت کا او په طریقت کښی مریددی د میان عبدالحکیم قدس سره العزیز کدشه هم یا صل د قندهار د ښار ساکن دی مګر په میا شتو ورکړ دی لکوره او سیاحت کا او په حضور د بزرګانو حاضریږی او ګوښو کښی په عبادت بخت وی نقل کا چه ملا محمد ایاز په شپو شپو ویښ وی او په ورځ ښتوا و غرو ګرځی ذکر کاندی او د خپل پیر دستګیر پر مخ راسی ژړا کا او هسی وینا کا چه تا ب د مظاهرو د جمال ادکمال محرم څکه نو شتنم ملا محمد ایاز ښه آوازی او کا کلمه چه خپل اشعار په غنا سره لولی خلق ژړوی او دیوان د اشعار وی د یرمتین دی او نکات عارفانه پکښی شته هسی روایت کا چه ملا محمد ایاز اکثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغور کښې ګرځېدی او دغو وحشي او خونخوار حیواناتو ده ته ضرر نه رسوی ملا
عبدالحکیم چه دده شاګرد دی هغه وایي چه څو میاشتې می استاد نراغی کور ته
او زه د ده پېلابېل ګرځېدم پېغور کښې یو ځای می ولیدل د شرمښانو لو ګله چه ګرزي
او یو د بله سره ملګري سر د اچوي ما ځان پټ کا او پېغوره کښې پېنهان سوم چه شرمښان
ولاړل هغه ځای ته ورغلم او هلته می محمد ایاز ومونده چه په پدرام خوب بیده و
او هغو وحشي حیواناتو هیڅ ضرر نه و ور رسولی بلکه وېښ سوی هم نه و ما چه لنځوب
وېښ کا او واقعه می ورته بیان کا ده ویل هغه شپه چه د خدای په محبت ودان وی
د حیواناتو ځنې بنو نه ورانېږي د حقیقي انسانیت مرتبه هغه سکه ده چه د حیوانیت
لاس هلته نه رسي او کله نفس اماره چه د نفس مطمئنه ځای ته نښتي او فاني کېږي
هغسي هم د حیوانیت په دریاب کښې لاهو مخلوقات د انسانیت سره ګړه ښني
کړای او له پر تمدی ټبنتي ملا محمد ایاز د شعر خونه دیوان لري او د پرېښد عارفانه
اشعاري پکښې جمع کړي دي چه زه ئې د هغه یو څو رباعي په بیان د عارفانه نکاتو
را نقل کاندم

رباعي

په هغه دي چه لري د عرفان برخه | د هغه بند ده پر دنیا د انسان برخه
هغه نږه چه نه دي هغه نه عرفان وي | ورې په د ژوند کښې د نا څخه حیوان برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولد

محبت د آب و خاک دی بې بنیاد | راسه د ځلګړی د دنیا خون آباد
ګډ د زړه سپیتوی د خدای محبت | په صحرا بدی بې کوره اوره بنا د

ولد

زړه وند خو بن کړه د اینکی ده درښتیا | ملګره چا باندې تیرند په جفا
د خدای کور مورانوه په ستمو | د خدای کور و ګنډز په چه وی صفا

ولد

په د ځان پیغم اخته وی عاشق نه دی | هغه خوک د خدای د مینې لایق نه دی
یا بد ځان یا بد جانان کا پرستند | ځو کړ چه ځان نه ګا هیر خو صادق نه دی

ذکر دلوی واعظ ملا محمد حافظ بارکزی دا عالم د محمد اکبر بارکزی زوی دی
په لیقندار په کښته خوا کښې اوسی او علوم مروجه ی لوستی دی فقه کښې استاد دی
او په جامع ګانو کښې د جمعې په ورځ وعظ کا او په واعظ مشهور شوی دی کله کله
په خطبه کښې خپل اشعار هم وایی چه په قول نصیحت دی یو کتاب ی کښلی دی چه نوم
ی دی تحفهٔ واعظ او په دی کتاب ی د تقوا او زهد وعظونه کښلی او خلق ته
ی امر په معروف او نهی منکر کړی دی محمد حافظ واعظ په رښتیا ویلو مشهور دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پادشاه اولو یا لوی هیڅ کښې هم د خدای امر ښکاره وایي او بې پروا نکوي په طریقت کښې د میان نور محمد صاحب مرید دی او تدریس کا د احکامو فقه په قندهار کښې طالبان د علوم ی له مجلس څخه شوی او په حلقه د تدریس کی کا جزوی دا وعظیه بدله ما را وا هیښند او نقل مې کړه له تحفه واعظ څخه چه مسلمانان ی ولولی

بدله وعظیه

کم بخته مکړه پر دنیا د ونګون — کړی زړه عوا یې د جنت ګلون

کم بخته مونږ یو میلمانه پر دنیا — وطن مو بل دی آخر ځو پر شتیا

هم به ښند بلسي د اعلام په عقبا — تو له سره اور کی پامال ځا نون

کم بخته مکوه حرام چه بد دی — چه کړی حرام سخه باطن کی دد دی

اعمال یې ټول له په عقبا کی رد دی — په لویه ورځ به ی وی تور مخون

کم بخته مکوه حرص قرار سه — تا د رب کوه صبور پیکار سه

تو ښند د دین وره پیدی کار و بار سه — په بې قتو بنی منی پیدا سو دون

کم بخته مځه د حرام پر لوری — خدای به دو تا ته په غضب وګوری

کډ کلونه په عوا ری بنا یت د بنی حوري — بی ځای امېزده بی پروا یلون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ذکر د نصر الدین خان اندړ

نصر الدین خان د محمد زمان خان زوی دی چه په زمانه کښې د پادشاه تیمورشاه حسین له غزنی راغی او په قندهار ساکن سو په مقتضا د طبع صافی یو څه مدت د صدر دوران بهادر خان ورسید او په ملک د ملازمانو د پادشاه ظل الله منسلک سو ځکه چه شجاعت او بهادری ئې په طینت کښې وه نو په دولت ورځوی د پادشاه او بهادر خان عالیشان لحظ اعزت د موند او د مستقیم طبعانو سره آشنا سو نصر الدین خان اندړ ښه اشعار وایی او زموږ د زمانی له موزونانو څخه ګڼل کېږی دیوان د اشعارو لری او نصر تخلص کا الحق چه نصر په نظم او نثر د نصر خاوند دی او د یارانو او موزونانو په منځ کښې مقبول یې دی کتاب د ده یو د بدله په یادګار کاتبم چه تذکره د ده له یاده خالی نه وی

### بدله د نصر الدین خان

د خوار عاشق ژړا مدام وی د اختګار دنیا
که وی په پټه خوله همله غندی ګفتار دنیا

د خوار عاشق مدعا داده که ژړا کی نا
په ورښکاره خپله زیبا مخ دلربا کی نا

په خپل وصال کئ خوشحال محبوبا کی نا
بلبل لغوری چه هم د غدا امیدوار دنیا

د دی حسینو پیزو ضدا یار له کړه او روڼ دی
په ور تلېسي دی خوار یده د یرغون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوربه آرام په درسته شپه کا مذی خوبون دی | پر مینانو هره شپه د غم تاتار دینا

ددی مینو پر زړه رب البنی داغون دی | چه په ارمان د بنایسته زیبا محزون دی

ثرا کا او په نا روه یفر یا دون دی | هو چه عاشق سی د هغو کله قرار دینا

عاشقانو زړه ی مات کا ترغیب ینا | هو په شپه باندی پتری کله جو په ینا

په د وصال با مید هر عاشق او سیږینا | کډی دا نوی عاشق هر ساعت بیمار دینا

د مینانو وصال عین لوی اختر دینا | یو خو خوار نظر له چیل بخته مردار دینا

د بلیتون اور دی چه په سوی درست جگر دینا | هیڅ نجوړ پیږی د بلیتون کاری پرهار دینا

ذکر د برگزیده احد ملانور محمد غلجی   مشهور دی په غلجی او په غلجو کښی توخی دی
د ملا یار محمد زوی دی او س په پښتو ای کښ او سی علوم شرعیه ویلی دی
و تدریس کا په عمر د یرپوخ سړی دی اتیا کلن او د قندهار ښار کښی پنځه کاله
د کاندان عالیشان د حاجی میرخان د ارتینو اولادو بچونو استادو او معلم محمد زا تو
ته د سراپرده عصمت ی درس کا ملانور محمد اشعار هم لری یو کتاب ی کښلی دی
پنامه نافع مسلمین او په دی کتاب ی احکام شرعیه بیان کړی دی دا کتاب
ی کښلی دی پنامه د پادشاه جمجاه شاه حسین او له معتبر و کتابو د فقه او اخلاق
ی انتخاب کړی دی ملانور محمد او س په پښتو ای کښی تدریس کا د شرع شریف

او

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بخاری شریف او هدایه او کنز او طریقهٔ محمدیه او نور مروجه کتب به تدریس لولی

دا نظم ده دی په نصیحت کښی مخمس

## نظم د نصیحت

ته مومن ژوندی پیدیږی زما یاره | ته ژړا فریاد کوه په خپو کو کاره
استغفار ته توبه کوه د ځان د یاره | ته هم ځای ساته پناه غواړه لناره

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

زه وتا ته یو ویی کړم زما ورور ه | په سهار بیداری کړه آخر د گور ه
ابد ته سی پچبا نکښی یا په اور ه | چه ستا حال به په څه رنگ سی له گور ه

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

په هر وقت له مسلمان دلداری کړه | وږ در سپه شپه کښ ډیره بیداری کړه
هم په خپل صورت وژاړه هم زاری کړه | د اخپل ځان لکه حباب تری بیزاری کړه

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

ته دروغ الابلا مکړه دنیا کښ | داد زیان دی زما جان په عقبا کښ
ستا ډیر سود دی در ته وایم شرابکښ | گناه هم خلاصی ډیر دی په دعا کښ

بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره

ته د خدای له حکمه مه غړوه غاړه | نیک اخلاق کړه ته طلب د بدخوی واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تضرع کړه خپل صورت کړه وچه ناره | تر له خپو دی بوریسوی تن دیجاره

بیداری کړه پیښهار کښی زما دلداره

قد امید کړه د رحمت تر ځما جان | د رحمت دروازه خلاصه ده جانان

هر سحار رحمت نازل سی له اسمان | مغفرت پیښهار غواړه له رحمان

بیداری کړه پیښهار کښی زما دلداره

ذکر د شاعر ظریف حافظ عبداللطیف اڅکزی دا شاعر په مجمع کی د وخلاسر امدی او پظرافت کی هم یا حل د بوستان دی پلاری غلام محمد نومیدی قندهار ته راغی په ماشوم کښی او سید ی عبداللطیف له کوچینوالی تعلیم شروع وکړه قرآن شریف ی حفظ کا او خلد چه طبع لطیف ی درلوده نوی ډیر خوانه اشعار و ویل پشعر کی طبع ظرافت ته مایله ده ځو بیا هم هسی قصی او حکایتو د نظم کا چه او ریدونکی عبرت حنی کا و پند و نصیحت دی پظرافت کی مفید درمونده کا او هر کله مجلس دا ښنا یا نو پظرافت د ده مسرور وی کاتب الحروف کله کله دی وینی او اشعار ی اروی او سی د څلویښتو کالو دی او سره دی په عمری پوخ دی خود نوانی مسترنکا او مجلسیان ی په صحبت نشاط بیاموی پیجا لو کښ اشعار ارتجالاً لولی او قصی کا فقیر کاتب الحروف د غذیو قصه د ده یدی تر انده کښ نقل کا په کتاب له ظرافت هم خالی نوی

تغنر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقصد د سوی او داوبن

عشق بہ و منیسی یار او داداوبن او سوی مقصد سوہ — خورا دیرہ خوبہ سوہ

یو سوی داوبن اشنا سو — بیحدہ ی ہمراسو

یاری بہ ی کولہ پولہ بلی یارا بند سوہ — خورا خوبہ مقصد سوہ

اوبن وویل پہ سوی — ای زمایارہ نیکخوی

بی تامی بنادی نستہ شپہ او ورخ می پہ یابند سوہ — خورا خوبہ مقصد سوہ

بقول عمری صحبت کا — د سوی سری الفت کا

شپہ ی بلیتون نکا پولہ بلی مرکہ سوہ — خورا خوبہ مقصد سوہ

سوی و داوبن بکور کی — ژوندون ی پسرور کی

مقصد بہ ی شروع کرہ ہر سہار تہ بہ غرمہ سوہ — خورا خوبہ مقصد سوہ

سوی تل سلیمہ داوبن و — دوستی کی دیر پہ پوہ بن

خپلوی سوہ ہسی تینگہ پہ ہر پری پیوند برمد سوہ — خورا خوبہ مقصد سوہ

اوبن ہم عزت د سوی کا — ساتی د ابروی کا

دیار د زیہ د پارہ بہ مقبولہ بلمہ سوہ — خورا خوبہ مقصد سوہ

یو ورخ سوی پہ لمستیا کرہ — داوبن د یاری دا

خپلوان ی راخبر کرلہ د سوی پتولہ بلمہ سوہ — خورا خوبہ مقصد سوہ

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوبه راځي د سوي کور ته | یوغاري ولید پورته
وانګ پرې سي ثنان وچې ندځای یوه ګوښه سوه | خوراخوږه قصه سوه
راوړې ی خوار ه وه | یوځه ده لږ وابنده وه
واتعه لږچه ی راوړه لډ د اوبه یوه ګولډ سوه | خوراخوږه قصه سوه
اوبه ورېی ولاړې کورته | نشلدی سو پورته
سرپا توی ځای نددرلودی تولد شرمنده سوه | خوراخوږه قصه سوه
سرپا توجیت کا | پاسوی ملامت کا
ول ستاود اوبه څلدی پچه دوستی سره توده سوه | خوراخوږه قصه سوه
پچه بسوی اشنا داوبه سی | بایدچه لږ پیهوبه سی
داوبه دپاره بنایی پچه پیدا یوماته سوه | خوراخوږه قصه سوه
هرڅوک چه یارانی کا | په پیل کا پیلخانی کا
هرڅالډمنا سبه اشنایی او طریقه سوه | خوراخوږه قصه سوه
پچه څوک مناسب کار کا | عبرت لډی ګفتار کا
لډ چل تغره سمد و هرڅاپنه راوړه دکسوه | خوراخوږه قصه سوه

ه ه ه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د رستم دوران سپه سالار عالی تبار زبدة الزمان سیدال خان ناصر

محمد هوتک له الف خان ناصر روایت کا چه سیدال خان د ابدال خان زوی او
بابری زی ناصر دی چه پلاری او نیکه ی په دې پله کښې په دوازیخوا پسر بولګای
دی هغه وخت چه سلطان ملخی توخی استقلال وموند او له غزنی تر جلدک
ی حکومت کا نو بابری زی د ابدال خان سره راغلل او په اتغری سکونت وکا
ابدالخان د عادل خان توخی سره په هغه وقت له بیګلربیګی سره د قندهار چه د
صفوی پادشاه لخوا د جنګوند وکړل او ندی پرېښو چه پر کلات حکومت وکا
سیدالخان په دیګلی پلار زوی و لیسخاوت او شجاعت زبده د روزګار سو
او هغه وقت چه حاجی میرخان علیین مکان له قندهار کښې ګرګین خان بیګلربیګی
ووژه سیدال خان ناصر د پښتنو د لښکرو سپه سالار واو دی لوستلی وه علوم
مروجه لکه فقه تفسیر و فصاحت صرف و نحو او فارسی کتب چه د میرویس خان پیژنده
ګلی د صفوی لښکر د قندهار د خلقو انتقام ته راغلل نو سیدال خان ناصر
د حاجی میرخان لخوا د پښتنو سپه سالار واو څو واره ی د صفوی لښکر په ترهتاب
تیر و وژل پدی لویو جنګو سیدالخان غالب او فاتح واو په دلاوری او شجاعت ی

(c) ketabton.com: The Digital Library


شهرت وکا چه حاجي میرخان علیین مکان وفات سو نو سیدالخان عالیشان
وشاه محمود سپه سالار سو او پر اصفهان ی یرغل وکا د صفویانو پجنگو پر لټو لو
میدانو غالب او فاتح سو خوری اصفهان فتح کا او د ښمنان ی مقهور د ک
نقل کا چه سیدال خان تا مر په سخه وقت چه په جنګو ی ګرفتاری هند ده
او له حیص و بیص ی فراغ و اشعاری ویل او د عشق سندرهای کښلی او س
چه په مهما تو د امور په اصفهان کښ بحث دی د شعر ویلو فرصت ی نشته
او ورځی ی تیرېږی په هسی جنګو چه رستم هم ځنی ډار کا د سیدال خان
له اشعارو تحفه دغه بدله پیدا نده کښ کاتب م چه دا کتاب د ده له ذکر خالی
نوی او د دی خان عالیشان بذکر مزین وی

بدله د سیدال خان عالی مکان

یار ماله هسی ګرانسو + راتیر مترقه ولیها فسو
نو رنده و یمه پیتر لو + بهان بقول راته جانان سو

وی زلفی د او بده دی کړی          پیر مخ د راضیری کړی
سری اشرفي د په تندی باندی سپری کړی + ګرزی په باغ کښی ګلو نو کښی نخری کړی

په ادر دو سو هم یاره راته اور تانه بوستا لسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مین چه اشنا یې مکا ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ شپیدو ریغ به کړیا یی ۵

عقبی د دستمګاره خوشحال زړون برخې کا + لندې لرې د ورځو د با نو عشق کا ری ؟

پرهار می ګوره طلعت د دلبر د تیر نبان سو

مین پر لویو غرو ځي ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ سر نوز یاد نیمو شپو ځي

وزی ار وطن وطن پرېږدې پر حیولو ځي + فریاد و ناری دکا بیا ورپسې په غلیلو ځي

وصال ی نصیب نسو لوره زړه ډک په ارمان سو

ناری وهم عالمه ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ دسپینې تر صبحه ـه

ناتوان دبلیتون یم یو ګرد نلرم دمه + بیتابه نفس نیری راځه زما د زړه تبه

نظر پر ما غریب که په تا خون می تاپیځا نسو

شبنم پر ګلو ښکاری ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ زما اښکې دا ریو ا ری

خوناب څي ستا لغمه زما په مخکې لاری لاری + تمام شپه لم تیره پتر د پیاری ناری

ښکاره سوه چه مجنون یم لیونتوب می اوس پیدا نسو

بوستان ښکلی ښیادی ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ رنګین په اوښکو زما دی

د زړه پرهار ګلګون دی چه بلبل بیتماشا دی + پسینه تی زړه وشاوه دی تـه وای تینګ د

نلی د بیلتون یم زه سیدال احمد بیا نسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مخزن په بیان د هغو چه شعرونه ی ویلي دي

ذکر د عصمت پناه نازو توخۍ هسې نقل کا چه نازو د سلطان ملخي توخي لور وه

چه تولد ی په سنه ۱۰۶۱ هجري هغه ځای ته نزدې وچه تازي نومیږی سلطان ملخی

په هغه وقت د غزني تر حاجرک د اقوامو مشر و او په استقلال ی حکومت کا معارض

او ساری ی نه لرلو داو نازو په کوچني والی له میرمنو د پښتو او سپین بږیرو علما و نه لوست

وکا او میره مجځ، ارتیزوه چه نامنیدی میراني او شجاعت او سخاوت ته حیران و

روایت دی له تقدیر اویا نو چه سلطان ملخي و سور غره ته نزدې په جنګ کښې مړ

او حاجی عادل چه د نازو ورور و د پلار په انتقام جنګ ته ولاړ کلا او کوری نازو

ته ویرینو او هغه وقت نازو توره پیلا کړه او د جنګ لیوځو انا تو سره ی

کور او کلا له تاراک د دښمنانو وساتل ما ته تفصیل پلار حکایت کا چه نازو انا

په میلمستیا او غریبانو مسافرانو چه پالنه مشهوره وه او هر وقت چه په ژمی بد د

مسافرانو قافلي راغلي د نازو به کلا ی اول په سوه سوه میلمانه بد ی روز ل

او دوه ی تری د وه دی ورکوله په خاچه بد کالی نه درلود لباس ی ورکاوه

او د سخاوت نوم ی له ځیر ترکو سانه ځیور سو نازو په حبالد د بنالم نخان ن

نا تمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوتک وه چه د کرم خان زوی وا او د هوتکو په الم خیل چه سن وریځ پادشاهي د قندهار او
اصفهان د دوی ده لدی شجره طیبه څخه دی او نازو څلور زامن درلود چه مشری
حاجی میرخان او نور عبدالعزیز خان او یحیی خان او عبدالقادر خان دی
سی روایت کا محمد کاتب الحروف لنحیل پلاره چه نازو انا عابده صالحه متقیه وه او خپلو
زامنو ته یې تل عمر په اوداسه شیدی ورکړی او چه علیین مکان حاجی میرخان
تولد سو خوب یې ولید چه شیخ بیتی رحمة الله علیه ورته وایی دا زوی به ستر مبیت
کړه چه لوی سی لوی کارونه به وکا او په زیارت د بیت الله شریف به مشرف کا او له نسل
به یې پیدا سی پادشاهان چه دین به رواج کا نو حاجی میرخان په وزینه یې مورکی
په دیانت او عبادت سره لوی کا او د دین فرایض یې تل په پر او سر کال ور ورښودل
او هر کله به یې ده ته نصیحت کا چه زوی په د شیخ بیتی نیکه قدس الله سره لقول ستا پیچ
بس دی لوی کارونه تو چه لوی شی د خدای عبادت او د مخلوق خدمت کړه ته
خدای پیدا کړی دی د دیاره چه لوی کارونه تر سره کړی او خلق الله په خدمت
ستا آرام وکا روایت دی چه حاجی میرخان علیین مکان به هر وقت ویل چه
زما مور ماته د هغو یو کارو د کولو وصیت وکا زه باید هغه کارونه وکړم چه په
سنه ۱۱۱۹ هجری کی تو سم د ظالمانو له ظلم څخه ... وړه نوی مسجد د شکر وکړه او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای د اسخه کار و چه ماته مور سپارلی وا و وصیت ئې کړی و د اخوستا د عبادو او بنده ګانو خدمت وچه ما تر سره کا زما پلار هم وویل چه نارنزو اما علاوه پر سخاوت او شجاعت او عبادت نه بس ارتیند وه چه د خدای تعالی څخه بیناجات ئې ډیر اشعار ویل او یو دیوان ئې درلود چه ددوه زړه بېتو نه یکښې ده او سلیقه ئې بند لګات اداکړی او داسې ئې ویلی وچه نارینه ئې هم قیسی ویلاک او د غه رباعی چه د نارزو اماده ماند خپله پلار اروید لی وه الحق په بند رباعی ده

رباعی

| | |
|---|---|
| سحر ګړه د نرګس لیمه لانده | څاڅکی څاڅکی ئې لستر ګو څڅیده |
| ما ویل څه دی کښلی ګلروی تزاری | ده ویل ژړوندی دی یوه خوله خندیده |

رحمة الله علی الماضین کلهم الی یوم الدین

ګرد در شهوار عصمت حلیمه حافظه حلیمه د خان علیین مکان خوشحال خان خټک لورده چه د عبدالله درخان خټک سره واده شوی کیده زما پلار هم روایت کا چه زه بنو ته د لار سم په هغه وخت داپښتنه ژوندی وه او د خپل پلار په ژوندی روجه علوم ولوستل او بیا د شیخ سعدی لاهوری رحمة الله علیه مریده سوه او هم پلار ئې عبدالقادر خان په لاس ئې بیعت دکا په هغه هم د شیخ دوران

خلیفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه و روایت کا چه حلیمه بي بي فاضله او عارفه ښځه ده او په سرا پرده د عصمت ناسته ده میړه ئي نه دی کړی او د خالق عبادت کا او د خپل د رور عبد القادر خان پکور کښي لوړو ښځو ته لوست کا او قرآن عظیم ئي هم پیاد دی زما پلار وویل چه حلیمه بي بي په پښتو ښه اشعار هم وایي او خپل عمر سرامد اقران ده او موزونان د پښتو ئي اشعار خوښوی د تصوف او طریقت کتب ئي ټول لوستلي دی او هسی وایي چه مشکلات د مثنوی شریف او مکتوبات د حضرت امام رباني قدس سره حل کوی د حلیمي په اشعارو کښي مجازي عشق ورنه ښکاری بلکه ټول شعرونه دی د حقیقت پر لار دی او د محبوب حقیقي صفت کا دغه یوه بدله دی زما پلار ما ته وویل چه یخزانه کښي د اخلوم رحمة الله علیها

## غزل

دا ښتای لفکر خوښه هسي شان شوم — چه هیبت م په ممتاز که نور جهان شوم
چه ئي کړم مه تا پخه نه سر فرازه — ثنا خوانه پخو رنگه د ریحان شوم
په مجازی دا یا زولاړي لزړه نه — سر بلند د تر محمود غزنوی سلطان شوم
و هر چا وته په گهرم واړه دی دی — د جهال په ننداروی شادمان شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیر فکر می لزړه ندرا بهر شو | په خلیل د پر عدو باندی یکسان شوم

حلیمی د غماز مکر زیات لحد شو

چه دی بیل بیا ره نکا په گمان شوم

ذکر د عارفه کامله بی بی نیکبخته د اعصمت پناه او عارفه د الله د شیخ الله داد لور وه په قوم مموزی چه پدا شنغر کښی کورنی او پلار ئیکه د یمن زیږ مرشدان وه هسی وایی کاتب الحروف محمد چه زما پلار روایت کا چه شیخ امام الدین خلیل غوریا خیل په خپل کتاب اولیای افغان هسی کښلی دی چه شیخ الله داد لوی ولی وا ولوری نیکبخته چه په حقیقت هم نیکبخته عارفه بنځه وه علوم دینی ی ولوستل او په ریاضت او عبادت د خدای عمر تیر کا په ۹۵۱ سنه هجری په حباله د نکاح شرعی د شیخ قدم قدس الله سره راغله ۹۲۱ په دخراجه محمد زاهد خلیل منی نری زوی وا او عارفه د خدای و په ۹۵۶ سنه لد بطن غوث الزمان قطب دوران شیخ میان قاسم افغان پدبدنی بنس پیدا سو او دا شیخ بمعرفت د خدای شهرت وکا چه په هند او پښتونخوا مشهور سو نقل کا چه شیخ امام الدین هم د دی عرفا له اولاد دی او دی کتاب د اولیای افغان هسی کاږی چه بی بی نیکبخته په د خدای عارفه او رابعه

۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زمانې ده یو کتاب ی لیکلی دی چه نوم ی دی ارشاد الفقرا او پد دی کتاب
ی ښې نصیحتونه لیشعر ویلي دی، په فقراو عباد الله تد مفید دی دا کتاب
په ملګـ ۹۶۹ هجری تمام سوی دی او زما پلاری نسخه لیدلی وه په ښو کښي
ښخه وقت چه دی تللی و لیسفر د ښخه ځای دغه شعرونه له هغه کتاب ز ما
د پلار پیاد وه په ما د لنډ ځنی نقل کړل چه کتاب می پیدا کرد عارفه دوران
رنګین دی

## مثنوی په نصیحت کښی

| | |
|---|---|
| پزره بنا دشي ای مومن | بظاهر په باطن سپین |
| ظاهر زهد پا خلاص کړه | پزره تینګ شه له یقین |
| شکر صبر پر هر حال کړه | خودنمای مشه خودبین |
| بشیه و روح بد پیژ لای ی | که خبر شي له سجین |
| سجین ځای د خودنمای | د بی نماز او د بی دین |
| له هغو ځا امان راکی | یا اله العالمین |

## بل نصیحت و لیها ایضاً

| | |
|---|---|
| د بنده ای حق تد غاړه کښینږده | لوری لوری دنیا پریږده |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا پاتې له هر چا ده | پا خلاص کې څښتن لیږده
څو قوت لرې بیا نه کې | سر د یار پر رضا کښېږده
ځان له بد خویه تر غوره | زړه په ذکر د یار بلیږده
کل دنیا به دښمنه شي | اوس لیرې ځني ریږده
بتول غواړي حسابونه | کړ داوني کړ دمیږده
دنیا ترک هسې کړ یوه یې | دلقا پر لوري پیجي بږده

ولها ایضاً رحمها الله

په طلب یې و در بیږه | په خدمت یې هو سیږه
په جمله بد و نفرت کړه | و نیکۍ ته ولاړ بیږه
په نیکۍ کښې اخلاص کړه | بدي مه کړه و پو هیږه
پر گناه له واړه وسترگو | د باران په دود وریږه
په یارب العالمین | له گناه را نتیریږه
خدای بر رحم پیتیا وکا | بیزار یو له ژړیږه
بې پروا و خدا ایته مشد | له غضب و ویریږه
بر غد فعل چه یې حق دی | په طلب یې و بنوریږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د پرمنی د حسب او نسب بی بی زینب اطال الله بقائها

بی بی زینب د حاجی میرخان علیین مکان لور ده چه له کوچنیوالی ی
پحرم کی د عصمت او عفت لوست وکا لیپلد سخه چه قرآن کریم ی
ولوست د احکام اسلامی او فقه کتابونه ی هم ولوستل او د فارسی
مشهورکتب ی ضبط کړل استاد علوموی ملا نور محمد غلجی دی چه دیر
عمری مخدراتو ته د حرم درس لوستی دی هسی روایت کا چه بی بی زینب
ډیره هوښیاره او پیمهانو ته د امورو عالمه ښځه ده او د پادشاه جهان
شاه حسین پامورو کی تدبیرکا او هر کله پرای صایب مشکلات د امورو حل کا
او پادشاه د زمان ی پجبر و عقل کا او لفایح ی اوری دا د مشهوره صدق عصمه
سره بنه شعرونه هم وایی او د موزونانو او شاعرانو قدر کا د داوین د
شعرا هر کله لولی او مضامین شیرین ی کام شیرین کا عمر لی عبادت
خدای او تلاوت د قرآن شریف تیر وی او مخدراتو د حرم د پادشاه
ته درس او کښل او لیوستل ورښیي نقل کا چه د شاه محمود جنت مکان
د مرگ حال قندهار ته راورسید نو د پادشاه خاندان عالیشان لوی غم

بی بی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ومخزرالتو د مرم ساندی او غلبلی کا بی بی زینب په واقعه د ورور د وفات واوریدله ډیره غمجنه سوه او په تلاوت د قرآن او لمانځه ی تسکین وکا د تیلی زړه او هسی ویرندی په ویر دخپل ورور مرحوم دویلد په زړه ی د لله نقل کوم خدای تعالی د مقبول نا مزان عالیشان د پادشاه ظل الله ژوندی ولری او خوبش

## مرثیه د شاه محمود جنت آشیان

په غم سو په ورور تیر له دنیا سونا ... قندهار واړه په ژړا سونا
زړه می په ویر کی مبتلا سونا ... په شاه محمود لما جلا سونا

دا رڼ جهان راته تورتم دنیا + زړه د بلیتون پتیغ کړم دینا
هوتک غمجن پدی ماتم دینا + دیا پهی تاج موبرهم دینا

په شاه محمود تیر له دنیا سونا ... قندهار واړه پژړا سونا

ځوان ومړه د توری جنګ ونا + ولاړ د کام پنام ونګ ونا
دښمن له ده په نیو رنګ ونا + په میدان شیر و یا پلنګ ونا

افسوس په مرګ د ده پخوا سونا ... قندهار واړه پژړا سونا

(c) ketabton.com: The Digital Library


محمودٔ ندیوازی خور ژړي + پر مرګ د هغؤ ګلی کور ژاړی
خپلوان لا څه پاچا د وروړ ژاړی + لښکر سپاه د پلی سپور ژاړی

پښتون د هغؤ پوا ویلا سونا      قندهار واړه پرې پاسونا

اصفهان پاته تاج نشکور عالمٔ + چه شاه محمود سوشن پګور عالمٔ
د پښتون لمر سو تیاره تور عالمٔ + راغه د دښمن بلا پیغور عالمٔ

چه پاچا ولاړ پښتون ګدا سونا      قندهار واړه پرې پاسونا

لښکر سو خپور پښتون ملا ړی اریان + پیخاور و ځای کا شاه محمود عالیشان
پاته سو تخت و تاج د هغؤ اصفهان + زړه ی راسو پر سو کا خوښی دښمنان

وایی پښتون اوس بی پاچا سونا      قندهار واړه پرې پاسونا

اسمانٔ بیا د څه ستم کا ځر ګند + و شلاوه تا چه د پښتون و پیوند
دښمن د بیا زمونږ پویر کا نحوړ سند + چه شاه محمود د کا پیغمبر کی بند

پر کور مو ویر شور و غوغا سونا      قندهار واړه پرې پاسونا

هو تکو ژړي شاه محمود څه سونا + پښتو ستاسی لوی سپاه څه سونا
د اصفهانٔ تر فراه څه سونا + پاچا چه وحشمت پیاه څه سونا

د پښتو پرتم فنا سونا      قندهار واړه پرې پاسونا

(c) ketabton.com: The Digital Library


محمود ځوان دی ولی ورلاړ لما + لتخت وتاج ته پرته سوی جلا
اصفهان ولی پاتې سونا لتا + سردار پور ته کړه په ځکړی اعدا

دښمن ولاړه بیاشاه ځوا سونا    قندهار واړه په ژړا سونا

اوس ناری دغم په کړین فریاد + پښتون په مرګ دشاه محمود سو برباد
زړون په تل ماو بادمن سونا بناد + دساندو بنغ دی په راو ړمینی باد

ماتم زده پیر و برنا سونا    قندهار واړه په ژړا سونا

وروړ مقر د ستا مولا کی جنت + در دکی تا ته پسله مرګه راحت
روح دوه ښاد په لوی ورځ دقیامت + مخ دوه روڼ دخدای په مهر و رحمت

دخالق رحم تل پرتا سونا    قندهار واړه په ژړا سونا

---

ذکر دشاعره برګزیده زرغونه    زرغونه دملا دین محمد کاکړ لور ده په پنجوای کښی اوسیده دا و پلار ی وکا تحصیل دعلومو او دفصاحت احکام ی زده کړل او دفضلاو اشعار ی ولوستل زرغونه په حباله دسعدالله خان نورزی وه په نورزیالی زمانی ی هدلود او لیتوال دعلم و هنر خاوندان و ماته هی نقل وکا زما پلار په زرغونی دشیخ مصلح الدین سعدی رحمة الله علیه کتاب د بوستان ملتوال په پښتو شو نظم کا او نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی و بوستان د پښتو په دا کتاب ی په سنه ۹۰۳ هجری قدسی پا یندو ساده
او ښتو ل نکات عارفانه او نصایح حکیمانه ی په پښتو کړل علاوه پر دی زرغونی
نه اشعار او غزلون هم وویل او پېژره د فصحای شهرت وکاهی چه موزونا نو
د روزګار بری اشعار لو ستل او د پښتو په بوستان بی سیر کا او ګلونه د پند
او نصیحت بری لټولول سی وایی چه زرغونه کی لداره ښځه وه د خطای خورا ښه
وا او کاتبانو بری له حسن خط اقسام د خط زده کول زما پلار هی وویل
چه په سنه ۱۱۰۲ هجری ما د زرغونی پخط بوستان د پښتو ولیده چه خیل اشعاری
پخپل ښه خط هی کښلی وچه ملطری ی نخط ته عاجزی کا او د غه حکایت له سفه
کتاب زما پلار رحمة الله علیه بیا د و په زه ی پخرانه کښی کا بوم

حکایت له بوستان د پښتو

اوریدلی می قصه ده — په لشا قو هم خوږه ده
دا اختر پورځ سحار — بایزید په دو روید اب
له حمام راو تلی — یکوټه کښی تیر میدلی
ایری نخاوری پیا لبام — را اچیده کړلی نا پام
نیغ او سری سو ګکیر — پا بیرو پیخا وره غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بایزید پښکر کښېنوسو | د مغل تخ په پاکیدو سو
بیدرزه ورپسیم دبل اور | چه پاور کی سهم نسکور
لا دا ئیرو به ځه بدورم | یا به لیې شکوه کوم
هو هو بانو ځان ایرى کړ | لا لومړنی ځان پر یکړ
ځوک چه ځانته گوری تل | خدا یته نسی کړای کتل
دوی تل پکښتا رنده | لو خبره پکار نده

تواضع به سرلوړی کا
تکبر به تل خوړی کا

ذکر د عفت همراه رالبعه حال د دی شاعره ماته ندی معلوم سوی
خو لږ ځه چه ښکاره ده هغه هسی ده چه دا شاعره د قندهار ده او په دوران
د محمد بابر پادشاه ی ژوند کا هسی وایی چه اشعاری ډیرو دیوان ی
درلود د عندیه ده مهله رباعی ماته صدیق او رفیق محمد طاهر ججریانی وویلد
چه زه ی دلته پنځر اند را نقل کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رباعي

آدم ئې ملکي وته راشنون که | یا ور د غم ئې سوي لړون کا
دوزخ ئې روغ کا په ریخ د مخکې | توم ئې د بغد د لته بلیتون کا

## خاتمه د کتاب په بیان د حال د کاتب الحروف

## حقیر فقیر محمد بنوا ـ مؤلف دې کتاب

آغا ابي محمد زوی د داود خان زوی د قادر خان یعقوم هوتک په زمونږ کهول صل شاه مرغوده چه زما نیکه قادر خان له هغه ځای راغی سیوی ته او هلته وسیدی یو بسله تر مدت پورې تا شاه د نصیب او قسمت راغی و د قندهار بنځوا کښو یکای د کوکران استوګنه تولد او پیشه ئی زراعت دی دوړخان ده په معمري ک وسن د ۶۷ کالو په سنه ۱۰۵۸ هجری وفات شو او په هغه هم چه کوکران ځو میږی جنغ سو زما پلار چه داود خان نومیږی په سنه ۱۰۲۹ هجری په هغه تولران زیږیدلی او په آوان د صباوت ئی علوم لوستلی و او په خپل عصر په موزونا

او فصحا و علماو د نامه ښاوندو او د میرعری قندهار تللی او د کسی خر دن او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

او ډیر ښه او پیښور او لوړ ځایونه یې لیدلي و بعد وفت حیدر خان علیین مکان
حاجي میرخان یقیند بار کښ دګرګین خان سره جنګونه کړل نو زما پلار هم په دغو
جګړو کې ملګری وو سره څنګه نو له قدیمه زما معرفت لدی خاندان ډیر دی
او اخلاص یې لرم پسله په کال ۱۲۱۲ هجري په رصغری پادشاه لښکری پرقند بار
راغلي نو د جنت مکان حاجي میرخان لخوا زما پلار ورلاپ او ایقراه او ستان
او کلمنت او لوړو ځایو یې پټ ند د حاجي میرخان مددتد راوغوښتل او له سند
پښتو سره یې مرکی وکړه او ډیر پیښاند د لوړو او بارګزو او اسحق زوی لګری
کړل د خان او پرخسرو خان دی یرغل وکا او په دغو جنګو زما پلار د حاجي میرخان
جنت مکان لخوا سپه سالار و پسله وفات د حاجي میرخان مرحوم مغفور
زما پلار ریه سنه ۱۲۳۶ هجري وفات سو او یکو کراتن د خپل پلار سره ښځ سو
د غه مرحوم رحمة الله علیه طبع مستقیم درلوده او کله به یې شعرونه هم ویل چه
دلته تیمناً ده دوی رباعی راوړم او دا رباعي په صفت د تجنیس بې نظیر
دی او په فصاحت هم مثل نلری

رباعی

په دنیا پرزړه کې اور دمینې بل سی
په اور بل یې لمبې لګه یې تالای بل سی
ور دمینې کله مری دزړه لامینې
دا اور بل هیند که تل دزړه تیل سی

## رباعي ولد ایضاً رحمه الله تعالی

کدی ویني ویني تل څاڅي له زړه وتځه    ځوک چه ویني تا له ګوانو یا ویره تځه
د زړه وله زړه که ویني ویني څاڅي    چه کړو د غم لویدلي ښاله کړه وتځه

اوس چه دی لږ حال د پلار او نیکه د کیښ تو تفصیل حال هم کاږم او د خزانی
لیدونکي بیخبر وم زما راتګ دی نابودی دنیا ته یعنی تولدی واقع سوی وه په
۱۴ د رجب المرجب سنه ۱۰۸۴ هجری یکوکران کښي او سن تو د تمیز ورسیدم نوی
پلار درس را اند شروع کا او ترا تلمیذ کال محمد د عمر می ولوستل احکام
د دین او فقه او اصول او تفسیر او د فصاحت علوم لکه قافیه او عروض او
بیان او معاني او لنور چه زما پلار مرحوم وفات سو او زه په تقاضا د پادشاه ظل الله
دامت سلطنته شاه حسین را علم (د قندهار) ربارته او ترا وسه په نظر کیمیا اثر
د پادشاه اسلام مبا دیهم او هر کله پاحسان او مرحمت د دی خاندان عالیشان
سربلند یم عمر می تیر سوی پلوستلو او کښلو د کتب او له مختو د جهان بلد بهره ملی
او زړه می هم خوښي لکا بیلیدی اشتغالو په بلځه پدی اوقاتو د عمر چه می تیر کړل
یو څو کتابونه می وکښل چه یو له د غو تځه د غد خزانه ده او لنور دا دی یو کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښلي دي په بیان د علوم د فصاحت چه خلاصة الفصاحت بالدی او بد
کتاب مي د تول علوم د فصاحت په پښتو د خپلو پښتنو طالبانو د پاره خلاصه کړل
او کتاب ئې کښلي دي په بیان د طبابت او علاج چه خلاصة الطب ئې نوم دی په
سنه ۱۱۳۹ هجري چه دغه کتاب د پادشاه عالم پناه مدظله څخه تېر شي کا
سل طلاوې یې ما ته صله ورکړې او مرکلو د اسې مراحم د پادشاه د دې فقیر غریب په حق
ډېر دي او ارکان د دولت ابد مدت هم پر دې فقیر د مرحمت نظر کا خاص بیا
بهادر خان عالیمکان چه من ورځ ښفقت هر د غرباو پر سر ظل د رحمت دی فائق
دی عمر د یې ډېر کا ما لا یو دیوان د اشعارو هم ستړ چه په دی وقت کی مرتب او مدون
شوی دی او غزلونه او قصاید او رباعي ئې کله چه طبع قاصر میل د شعر او د ویلو
کا شعرونه کاتب هم او موزونان د روزگاري خوښوي ځکه چه د ځان ستاینه
سبب نده او پوهان لري کار عار کا نو ښخراندی کي مي خپل احوال و کښل چه
دي کتاب ویونکي ما ته دعاوو کا او هر وقت مي په دعا یاد کا خپله یوه غزل
هم د الله د منت په طور کاتب هم چه پر صفحه د روزگار یادگار روی نور
اشعار مي په دیوان کښې یو ځای دي شایقان د علم او شعری له دیوان لولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزل د کاتب الحروف غفر الله ذنوبه

ساقي پاڅه د سره ملو ډک یو جام را | تا الغم ناآرام یم آرام را

بیا د مې بو د بنګا رندانو شکر هم | پیرلی سو د خوبي بنده پیغام را

دنیا پاتې ده بنا دي مو یو ګړي ده | یو ګړي مې خوښ کړه مې کړي انعام را

د بلبلو په تاریکو کې مې زړه پرېشان سو | زما لره د جام د مېو [illegible] را

ناکام سو د دنیا مې کام را تریخ کا | چه مې خوږ کا کام تر څه دوما ناکام

نه فنا ط ستنه نه مستي ستد رندي شد | چه سم [illegible] علي [illegible] را

پاو بوي سو پر زړه ګلی لب څه انوده کړ

محمد تد اوړه ډک یو سي جام را

تمت الکتاب بعون الملک الوهاب اللهم اغفر وارحم لکاتبه ولقارئه ولمن له حق علینا
والصلوة والسلام علی رسوله محمد وعلی آله واصحابه اجمعین کتاب تمام سو
پوره ځ د جمعې ۲۴ د شوال المکرم سنه ۱۱۴۲ هجري پقندهار [illegible] او موقف
محمد هوتک بیم فارغ البال سو الحمد لله حمدا کثیرا

بتاریخ دهم ماه ربیع الاول سنه یکهزار و دوصد و شست و پنج هجری گذشته بود

(c) ketabton.com: The Digital Library



از هجرت رسول خدا صلی الله علیه و سلم بدستخط حقیر فقیر کثیر التقصیر

نور محمد نوروتی برادر عالیجاه رفعت جایگاه سردار عالی تبار سردار

مهردل خان قلمی گردید — هر که خواند دعا طمع دارم

زانکه من بنده گنه‌گارم — این کتاب را الاحقر الناس محمد عباس

قوم ... در شهر کویته بلوچستان خاص از برای عالیجاه تجارت نشان

حاجی عبد الاکبر قوم ... قلمی کرده ۱۳۰۳ سنه هجری با شوال تمام قلمی شد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**